# یاغی ملا

ملا یاغی شوی مکتبونه سوځوي
پردی له عقله شوی تمدن له مینځه وړی
په سترګو مو ولید د بامیا ن بتا ن یی مات کړ
فرهنګ نه مرور آبدات ټول نړوی
د عرب او د پنجا ب د سیاست غټ مبلغ
له جهله او له حسده هره ښځه سپکوی
لټ پروت په مسجد کی وړی سترګی خیراتخور
عشرونه او ذکات له خلک په چلو ټولوی
ایمان او عقیده یی ټیکا و نه لری هیڅکله
ډالر او په کلدار سره ایما ن خپل خرڅوی
خندونه زیږوی د نهضت په مخ مدام
د خپل ګټی د پا ره حد یثونه جوړوی
ملا تل ویجاړ کړی دا وطن په پردیو
ملا د لاسه اوس هم خلک اوښکي تویوی
راځی چی سره یوځای ملاورک له دی وطن کړو
که غواړی چی پخپل عمل «مل» خوښوی
****

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
جرمنی ۲۰۱۴-۱۱-۳